# پرمختیا

اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۱۰۷ مه گڼه • پنجشنبه • د لړم ۳۰مه • ۱۳۹۸




۳

# په تخار کې د څه باندې ۸,۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د بریښنا د یوې لمریزې شبکې د جوړولو کار بشپړ شو



۸

په نورستان کې د ۶.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۹۵ متره استنادي دیوال بشپړ شو



۷

په بدخشان کې د ۶.۷ میلیونه ډالرو په ارزښت د دوو محفافظوي دیوالو جوړولو کار روان دي

# تیره اونۍ په ۸ ولایتونو کې د ۱۵ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۳۰/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې په ۸ ولایتونو کابل، بلخ، کندهار، هرات، فاریاب، هلمند، بادغیس او ننګرهار کې د ۱۵ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو. دا ښوونځي د کابل ولایت په استالف او شکر دره، د کندهارولایت په سپین بولدک او میوند، د ننګرهار ولایت په خوګیانیو او چپرهار، د هلمند په ګرشک، د بلخ ولایت په بلخ، د فاریاب په خان چراغ او قرغان د هرات ولایت په پښتون زرغون او ګازرګاه او د باغیس په مقرولسواليو کې جوړېږي. یاد ښوونځي به ٦، ۸ یا ۱۲ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې ولري. د دې پروژو په پیل سره سلګونه کاري ورځې رامنځ ته شوي او په بشپړتیا سره به یې د نږدې ۳ زره کورنیو زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.











# په ننګرهار کې پر ۳۸ کورنیو د ۱۳۷ زره افغانیو په ارزښت خوراکي توکي وویشل شول

۲۵/ لړم/ ۱۳۹۸

په ننګرهار ولایت کې پر ۳۸ بې وزلیو کورنیو د څه باندې ۱۳۷ زره افغانیو په ارزښت د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د غلو دانو له بانکونو خوراکي توکي وویشل شول. دا توکي د چپرهار ولسوالۍ په ملک سعدالله او منځنۍ ګلدره کلیو کې وویشل شول، دا توکي چې په کې وریژې، وړه، بوره او لوبیا شامل وو، د کلیوالو او د ټولنیز مشارکت وجهي مالي پروګرام SIG له خوا چمتو شوي وو.

# په تخار کې د څه باندې ۸,۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د بریښنا د یوې لمریزې شبکې د جوړولو کار بشپړ شو

۲٦/ لړم/ ۱۳۹۸

د څه باندې ۸ میلیونه او ۷۰۰ زره افغانیو په ارزښت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د یوې لمریزې بریښنا د شبکې د جوړولو کار د تخار ولایت د دشت قلعه ولسوالۍ د حاجي حق نظر کلي د پراختیایي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. دغه د بریښنا لمریزه شبکه د ۲۳ کیلوواټو بریښنا د تولید ظرفیت لري او د نوموړې پروژې د کار په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته ٤١٥ کاري ورځې رامنځته شوې او د کلي ۱۹۸ کورنۍ ترینه ګټه پورته کوي.






# په تخار کې د ۲٤۰ زره افغانیو په ارزښت ٤ ژورې څاګانې و ایستل شوې

۲٦/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د تخار ولایت د هزار سموچ ولسوالۍ په بیش کپه یي کلي کې د ۲٤۰ زره افغانیو په ارزښت په لاسي بمبو سنباال ٤ څاګانې و ایستل شوې او ګټه اخستنې ته وسپارل شوې. ددې پروژې په بشپړتیا سره ۱٦۳ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.

# په کونړ او نورستان کې د اوبو رسولو ۲ شبکې بشپړې شوې

۲٦/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو او کلیوالي حفظ الصحي د ملي پروګرام له لوري د ٤ میلیونه او ۸۰۰ زره افغانیو په ارزښت د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په ګرداب او د نورستان ولایت د نورګرام ولسوالۍ په کنده کلي کې د اوبو رسولو دوه پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې. دا پروژې د یونیسیف اداري له خوا تمویل شوې وې. ددې پروژو په ترخ کې کلیوالو خلکو ته ۲٤۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې. او په پایله کې یې ٤۰۰ کورنۍ د څښاک له پاکو او صحي اوبو برخمنې شوې.





# په کابل کې د څه باندې ۱,۸ میلیون افغانیو په لګښت د کرنیزو اوبو لګولو کانال د جوړېدو کار بشپړ شو

۲٦/ لړم/ ۱۳۹۸

د څـه بانـدې ۱ میلیـون او ۸۰۰ زره افغانیـو پـه لګښـت د کلیـو د بیـا رغونـې او پراختیـا وزارت د ولسـي تړون ملـي پروګـرام لـه لـوري د کرنیـزو اوبـو لګولـو د کانـال د جوړولـو کار د کابـل ولایـت دګلـدرې ولسـوالۍ اړونـد د ملـک آغـا کلـي د پراختیایـي شـورا لـه لـوري بشـپړ او ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـو. دغـه کانـال ۳۳۰ متـره اوږد والـي او محافظـوي دیـوال یـې ٤۰ متـره اوږدوالـي لـري. نومـوړي کانـال چـې د سـیمې د خلکـو ۳۰۰ جریبـه ځمکـه بـه خړوبـه کـړي د جوړولـو پـر مهـال یـې ۲۵ تنـو ماهـرو اوغیـرو ماهـرو کاریګـرو تـه د دوه میاشـتو او لسـو ورځـو لپـاره د کار زمینـه برابـره کـړې وه. د یادونـې وړ ده چـې لـه دغـه کانالـه د کلـي د ٥٤ کورنیـو ۳٦۷ تنـه ګټـه پورتـه کـوي.



# په تخار ولایت کې د ۱.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کرنیز کانال کار روان دی

۲۷/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د تخار ولایت د ورسج ولسوالۍ په حصار کلي کې د ۱.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه جوړېدونکي کرنیز کانال کار ۷۰ سلنه مخکې تللی. یاد کاریز ۲۰۰۰ متره اوږد دي چې په ترخ کې یې سیمیزو کارګرو ته ۱٤۵۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې دي. د دې پروژې په بشپړتیا سره به ۲۰۰۰ جریبه شاړه ځمکه د کر وړ وګرځي چې ۱۲۰ کورنۍ به ترې ګټه پورته کړي.

# په تخار ولایت کې د ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه محافظوي دیوال جوړولو کار روان دی

۲۷/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د تخار ولایت د ورسج ولسوالۍ د میان شهر په ده پایین کې د ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د جوړېدونکي محافظوي دیوال کار ۵۰ سلنه مخکې تللی. دغه دیوال چې ۳۰۰ متره اوږدوالی لري د جوړولو په ترخ کې یې ۱۰٤۵ کاري ورځې رامنځ ته شوې. د دې پروژې په بشپړتیا سره به د سیلابونو په موسم کې د ځاني مرګ ژوبلې، د کورونو د لاهو کیدو همدا راز د دکانونو او کیلوالي لارو د ویجاړیدو مخه ونیول شي.






# په بدخشان کې د ٦.٧ میلیونه ډالرو په ارزښت د دوو محفافظوي دیوالو جوړولو کار روان دی

۲۹/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د بدخشان ولایت د درایم ولسوالۍ په کولابي او حبیب اباد کلیو کې د ٦.٧ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو محافظوي دیوالونو جوړولو کار ۹۵ سلنه پر مخ تللی. د دې دیوالونو اوږدوالی ٤۲٦ متره دی په کولابي کې سربیره پر دې د ۷۸٦ زره افغانیو په ارزښت ۷٦ متره اوږد یو بل دیوال هم جوړوي چې په ترڅ کې یې ٤۰ کارګرو ته د دوو میاشتو لپاره د کار زمینه برابره شوې ده. د دې پروژو په بشپړتیا سره به ۱۹۷ کورنۍ تړې ګټه پورته کړي او ۳۵۰ جریبه ځمکه، د وسیدو کورونه، باغونه او سړکونه به هم د نیزونو او سیلابونو له ګواښه خوندي شي.



# په نورستان کې د ٦.٣ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۹۵ متره استنادي دیوال بشپړ شو

۲۹/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د نورستان د مرکز شهر نو درې په کانتیوا کلي کې د ٦.٣ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۹۵ متره استنادي دیوال جوړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو. ددې پروژې په ترڅ کې ٤۲۲۸ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې د کار په پایله کې کرنیزې ځمکې، د هستوګنې کورونه او د کانتیوا ښوونځي د نیزونو له ګواښه خوندي شول او د لیله رود د اوبو د ډیریدو لامل هم شو.

# توزیع مواد خوراکی و غیرخوراکی به ارزش بیش از ۱٤٥ هزار افغانی برای ۲۰ خانواده‌ی نیازمند در لوگر

۲۹ عقرب ۱۳۹۸

برای ۲۰ خانواده‌ی نیازمند به ارزش بیش از ۱٤٥ هزار افغانی مواد خوراکی و غیرخوراکی از طریق بانک‌های غله جات برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستاهای شش قلعه و راه خوشی مربوط پل علم مرکز ولایت لوگر، توزیع شد. این کمک ها توسط روستاییان و برنامه‌ی وجه مالی برای مشارکت اجتماعی (SIG) پیشکش شده و شامل گندم، برنج، روغن، کچالو، آرد، بوره، چای، نمک، مکرونی، شیرینی، رب، دال نخود، گوگرد، صابون، پودر، لباس، کمپل و جمپر می‌باشد.





## د ننګرهار د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست له لوري د ۱۰ کیلومتره سرک د حفظ او مراقبت چارې پیل شوې

۲۷/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لارو جوړولو ملي پروګرام (NRAP) له لوري دځلور نیم میلونه افغانیو په لګښت د ننګرهار ولایت په غني خیلو ولسوالۍ کې د ۱۰ کیلو مترو په اوږدوالي سره د یوه سرک د حفظ او مراقبت چارې پیل شوې.

د ننګرهار د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجینر مجیب الرحمن ضیاء وویل دغه سرک د غني خیلو ولسوالۍ له ګولایي سیمې څخه پیل او سیاه چوب پورې لس کیلومتره اوږدوالي لري چې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لارو جوړولو ملي پروګرام له لوري به یې د راتلونکو درې میاشتو په ترڅ کې د ترمیم، حفظ او مراقبت چارې ترسره شي. چې په سیمه کې به بې روزګاره کسانو ته په سلګونو کارې ورځې هم رامنځ ته کړي.

## د لغمان په الیشنګ ولسوالۍ کې د ۳،۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوه کیلومتره سړک د جوړولو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/ لړم/ ۲۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي سړکونو د جوړولو پروګرام له لوري د لغمان ولایت د الیشنګ ولسوالۍ اړوند ماسمود په سیمه کې د اوه کیلومتره سړک د جوړولو چارې پیل شوې.

دلغمان ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس انجینر امان الله میاخیل په وینا په دې سړک باندې ۳،۱ میلیونه افغانۍ لګښت کېږي، چې چارې به یې په ټاکلي وخت بشپړې شي او د سیمې اوسیدونکو ته به د تګ راتګ په مهال ګڼې اسانتیاوې رامنځته کړي.

